بسم الله الرحمن الرحيم

# د غزې جګړې د غرب دوه ګوني معیارونه افشا کړل

د فلسطین په مبارکه خاوره کې د غزې روانه جګړه یو نعمت دی. دغې جګړې د امریکا په مشرۍ لویدیځو اشغالګرو هېوادونو او د دوی د دوستانو له اصلي څېرې پرده پورته کړه او د دوی اصلي څیره یې نړۍ او مسلمانانو ته څرګنده کړه. د پېښو پر وړاندې د دوی دوه ګونی معیار او دوه مخی چلند خپل اوج ته رسېدلی. لاندې ځینې پیښې یادوو چې پورتنۍ ادعا تصدیقوي:

**لومړی**: د ۲۰۲۳ کال د مارچ په ۲۷مه د نړیوالې جنایي محکمې (ICC) II ابتدایي محاکمې د روسیې د ولسمشر، ولادیمیر پوتین او د ماشومانو د حقونو لپاره د روسیې د کمیشنرې، ماریا الیکسیوینا لووا-بیلووا د نیولو امر صادر کړ. دغه پریکړه د ییل پوهنتون څېړونکو د هغه راپور پر اساس وکړه چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت لخوا تمویل شوی دی. په دغه راپور کې ادعا شوې وه چې روسیې په ناقانوني توګه په روسیه کې د کمپونو یوې شبکې ته تر ۶۰۰۰ ډېر اوکرایني ماشومان لیږدولي؛ په داسې حال کې چې د اسراییلو لومړي وزیر، بنیامین نتانیاهو د فلسطین په مبارکه خاوره کې تر لسو زرو ډېر فلسطیني ماشومان وژلي او لا هم دغو وژنو ته دوام ورکوي؛ خو تر اوسه هېڅ د هغه د نیولو امر نه دی صادر کړی!

**دویم:** د ۲۰۲۰ کال د جون په ۱۷مه د امریکا ولسمشر، ډونالډ ټرمپ په ۲۰۲۰ کال د اویغور لپاره د بشري حقونو د پالیسۍ قانون لاسلیک کړ. په یاد قانون کې د چینایي چارواکو پر اویغور ضد سیاستونو بندیز ولګېده؛ خو همدغه امریکا او متحدین یې همدا اوس د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې یهودي دولت «اسراییلو» ته وسلې ورکوي او ساتنه یې کوي!

**درېیم**: دا تش په نامه نړیواله ټولنه، روسیه ځکه غندي چې د اوکراین خاوره یې اشغال کړې ده. تور لګوي چې روسیه هغه نړیوال قانون ته درناوی نه کوي چې د اوکرایني جغرافیې پولې ټاکي؛ خو امریکا اوسمهال د برتانیې د بالفور اعلامیې ملاتړ کوي، چې د یهودي دولت د اشغال او د مسلمانانو د وژلو او د اسلامي مقدساتو د سپکاوي لپاره د اساس په توګه کارېږي. همدارنګه صهیونیستان د یوه دولت د حللارې غوښتنه کوي او امریکا د دوو-دولتونو حللارې په وړاندې کولو سره له دوی ملاتړ کوي!

**څلورم:** د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر په ۵ مه د پیریس مورګن په نامه تش په نامه بې سانسوره ټلویزیوني خپرونې د کوربه په مشرۍ غربي طوطیانو «رسنیو» له دې څخه د اسلام او مسلمانانو د منفي نسخې د تبلیغ لپاره کار

واخیست. دا کار له دې سره په تړاو کې وشو چې د برتانیې په ګډون د نړۍ په ګوټ ګوټ کې حزب التحریر لاریونونه ووکړل او په دغو لاریونونو کې یې د غزې او د فلسطین د مبارکې خاورې د ازادولو لپاره د مسلمانو پوځونو د یو ځای کېدو او حرکت غوښتنه وکړه! د دغې خپرونې کوربه د دې پر ځای چې د اشغالګر او قاتل یهودي دولت بریدونه وغندي؛ د خپرونې مېلمه او د حزب التحریر - برتانیې د اجرایوي کمیټې اوسنی رییس، زموږ ورور ډاکټر عبدالواحد یې یو افراطي مسلمان او د ترهګرۍ پلوی وباله!

**پنځم:** د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر په ۸مه امریکا د ملګرو ملتونو هغه پرېکړه لیک ویټو کړ چې په غزه کې یې د اوربند غوښتنه کوله!

**شپږم:** د ۲۰۲۳ کال ډسمبر په ۱۳مه د اشغالګرو هغو لاسپوڅو مسلمانو واکمنانو چې د خپلو غربي اشغالګرو بادارانو لخوا د قدرت په ګدۍ کېنول شوي دي؛ د سعودي په پلازمېنه، ریاض ښار کې دویمه ناسته وکړه. په یاده ناسته کې د اسلامي خاورو نظامي افسرانو ګډون کړی و او په ډسمبر کې د اسلامي نظامي ترهګرۍ پر وړاندې ایتلاف (IMCTC) تر چتر لاندې جوړه شوې وه. دغه ایتلاف په ۲۰۱۵ کال کې د سعودي ذلیل او خاین رژیم لخوا د محمد بن سلمان په مشرۍ رامنځته شوی دی. د دې ناستې اصلي اجنډا دا وه چې د ایتلاف د سټراټیژۍ او لاسته راوړنو بیاکتنه وکړي او د غرب له امر سره سم د حماس په ګډون ترهګرو ډلو پر ایډیالوژۍ، اړیکو، تمویل او د نظامي عملیاتو پر مخنیوي بیاکتنه وکړي!

**اووم:** د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر په ۱۹مه متحده ایالاتو د ۱۰ هېوادونو سمندري ایتلاف اعلان کړ، چې د سوکالۍ ساتونکو عملیاتو نوم یې ورکړ. دغه ایتلاف د حوثیانو له بریدونو څخه د سره سمندر د هغو کښتیو دفاع کوي چې په یهودي دولت پورې اړه لري یا د هغو هېوادونو ملکیت دي چې مستقیماً یا نامستقیماً د یهودي دولت ملاتړ کوی او د مسلمانانو د قاتل په ساتنه کې خوشحاله دي!

**اتم:** په اسلامي نړۍ کې د علماوو په ګډون د مسلمانانو نیول او غلي کول. وروستۍ بېلګه یې د سعودي رژیم دی چې په مدینه منوره کې یې یو مسلمان د مسلمانانو د لومړۍ قبلې، مسجد اقصی او د فلسطین د ټولې مبارکې خاورې د ازادۍ لپاره یوازې د دعا کولو په خاطر نیولی دی! په سعودي او نورو اسلامي خاورو کې درباري علما داسې غلي دي ته به وایې چې په غزه کې هېڅ خبره نه ده. دوی د غزې د روان حالت په اړه هېڅ اندیښنه نه لري او د پردې تر شا د مسلمانانو له قاتل او د اسلامي مقدساتو سپکوونکي یهودي دولت سره د اړیکو پر عادي کولو بوخت دي او دا تر ټولو سپک او شرموونکی عمل دی!

دا د فرېبکاره او ناکام غربي تمدن څو بېلګې دي چې په ټوله نړۍ کې د دغه تمدن او د هغه د پلویانو د دوه مخي چلند تصدیق کوي. د غزې جګړې یو ځلې بیا د غربي اشغالګرو له اصلي څېرې پرده پورته کړه او هغه کسان یې افشا کړل چې پر دې یې ویاړ کاوه چې د ډیموکراسۍ څراغونه، د بشري حقونو ساتونکي، د نړیوالو قوانینو ساتونکي او... دي.

غرب او ملګري یې له خلکو څخه د کار اخیستو او استثمار لپاره بېلابېلې لارې کاروي او له دوی څخه تر هغه چې په خپله خاوره یا بهر یې ګټې تضمینوي، کار اخلي. ښه بېلګه یې په کینیا کې د ۱۹۵۰مې لسیزې په اوږدو کې د برېتانیا لخوا د ماو ماو مخلصو جنګیالو «ترهګر» ګڼل او هر هغه څوک چې د دوی ملاتړ یې کاوه، د دوی د خواخوږو په نامه نومول دي. دوی یې د خپلواکۍ غوښتلو لپاره بندیان کول، شکنجه کول او ووژل یې! په دې وروستیو کې د بایډن تر رهبرۍ لاندې امریکا، سپین پوستي برتري غوښتونکي د کورنیو ترهګرو په نامه یاد کړل! د دې ترڅنګ د هند پولیسو د ۲۰۲۳ کال د نومبر په ۲۸مه د کشمیر اووه زده کونکي ځکه ترهګر وبلل او بندي یې کړل چې د استرالیا لخوا د هند کرکټ لوبډلې پر ماتې خوشاله شوي وو.

هر څه ښکاره دي او هر څوک قضاوت پرې کولی شي. نړیوالو پېښو د هغو کسانو سترګې خلاصې کړې چې له تاریخه ژوره مطالعه لري او عبرت اخلي. ژر به د امریکا تسلط له منځه ولاړ شي او پر ځای به یې نه چین او نه د څو قطبي نړۍ په نوم + BRICS ظهور وکړي! بلکې پر ځای به یې د نبوت پر منهج خلافت د بیا تاسیس له لارې ژوند ته د اسلام له راګرځولو سره دغه الهي دین ظهور وکړي او د خلافت د تاسیس پر وړاندې به ټولې ناوړه دسیسې شنډې شي؛ لکه د داعش په نوم د هغې مشکوکې ډلې جوړول، چې نړۍ ته اسلام د یوې افراطي ایډیالوژۍ او مسلمانان د افراطیانو په نوم معرفي کولو دنده ورکړل شوې!

اوس هغه وخت رارسېدلی چې مسلمانان، په ځانګړي ډول اسلامي لښکرې راپورته شي او د الله سبحانه وتعالی دغه امر واوري او لبیک ورته ووایي:

## [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ] [انفال:۲۴]

**ژباړه:** *«اې مؤمنانو! کله چې الله سبحانه وتعالی او د هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکوي چې تاسو ته ژوند ببښي، نو غوښتنې ته یې لبیک ووایاست. دغه بلنه لبیک کړئ او پوه شئ*

*چې الله سبحانه وتعالی د انسان او د هغه د زړه ترمنځ حایل دی او پر دې ایمان راوړئ چې د همدغه ذات لوري ته به تاسو راټول (محشر) کړل شئ.»*

د سرتېرو خپلوان باید له دغه فرصته ګټه پورته کړي او دوی ته ور په یاد کړي چې غزې ته د نصرت ورکول د الله سبحانه وتعالی د امر منل دي او دا کار پر دوی فرض دی. که پام ورته ونه کړي، نو د الله سبحانه وتعالی د لعنت وړ به وګرځي! دوی دوه اختیاره لري، یا به الله د سبحانه وتعالی امر او غوښتنې ته ځواب وایي او یا به په خپلو پوځي اډو کې بند پاتې کیږي او د هغو غربي اشغالګرو د لاسپوڅو مسلمانو حکامو امر ته به په تمه وي چې خپله د واشنګټن، لندن، پاریس، برلین، بیجینګ او مسکو د حکمونو او امرونو په تمه دي!

نور اسلامي امت، په ځانګړي ډول هغوی چې په اسلامي خاورو کې اوسیږي، دوی باید خپل لاریونونه او غوسې د اشغالګرو د لاسپوڅو مسلمانو حکامو تر دروازو ورسوي. له دوی وغواړي چې اسلامي شرعیت په بشپړ ډول تصویب او پلي کړي. د اسلامي شرعیت د بشپړ پلي کولو لومړی حکم باید د فلسطین د مبارکې خاورې د ازادولو لپاره د لښکرو د بسیج کولو حکم وي. که دا کار نه کوي، باید له واکه وغورځول شي او پر ځای یې یو عادل او مخلص مسلمان خلیفه ته مسولیت وسپارل شي. دا کار د هغو کسانو لپاره ډېر سخت ښکاري چې د سیکولر پانګوالۍ افکار لري؛ خو هغو کسانو ته بیا ډېر اسانه دی چې له الله سبحانه وتعالی څخه د تقوا او د هغه سبحانه و تعالی د دین په اړه د اخلاص په ګانه سمبال وي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ]** [روم:۴]

**ژباړه:** *«او په هغه ورځ (د هغه ابر قدرت له کمزورۍ څخه چې پر دوی مسلط و) به مؤمنان خوشحاله شي.»*

## علي ناصرو (ابو تقي الدين)

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی